# په تاسو کې دې هېڅوک د ادرار کولو پر مهال ښی لاس خپلې تناسلي آلې ته نه وروړي او نه دې په ښي لاس د حاجت ځای پاکوي او نه دې په لوښي کې پوکی کوي

له ابو قتادة-رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «په تاسو کې دې هېڅوک د ادرار کولو پر مهال ښی لاس خپلې تناسلي آلې ته نه وروړي او نه دې په ښي لاس د حاجت ځای پاکوي او نه دې په لوښي کې پوکی کوي».
[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې آداب بیان کړل: چې یو سړی دې د تشو متیازو کولو پر مهال خپله تناسلې آله په ښي لاس کې نه نیسي، او نه دې په ښي لاس د تناسلي آلې یا مقعد څخه نجاست لرې کوي، ځکه چې ښي لاس د نیکو کارونو لپاره چمتو شوی دی، همدارنګه یې لدې څخه منع فرمایلې ده چې د څښاک په لوښي کې د څښلو پر مهال ساه واخیستل شي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee